# عمومي اسامبله
# امنیت شورا

خپرېدل: عمومي
۶ ډسمبر ۲۰۲۴
اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**نهه اویایمه ناسته**
د اجنډا ۳۶ ماده
**په افغانستان کې وضعیت**

**امنیت شورا**
**نهه اویایم کال**

## په افغانستان کې وضعیت او پر نړیوالې سولې او امنیت باندې یې اغیزې

## د سرمنشي راپور

### لومړی. مقدمه

۱. دا راپور د عمومي اسمبلۍ د ۷۴/۹ ګڼه پرېکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۷۲۷ (۲۰۲۴) ګڼه پرېکړه لیک پر بنسټ سپارل شوی دی، چې په کې له سرمنشي غوښتل شوي څو په هرو دریو میاشتو کې د افغانستان د وضعیت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د ماموریت د تطبیق په اړه، که هغه په محلي کچه هم وي، راپور ورکړي.

۲. دا راپور د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په ۹ نېټه خپور شوي مخکني راپور (A/79/341-S/2024/664) راهیسې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کړنو لکه سیاسي، بشردوستانه، او بشري حقونو هڅو په هکله تازه معلومات وړاندې کوي.

### دویم: اړوند بدلونونه

۳. داسې ویل کېږي چې د طالبانو مشر، هبت الله اخندزاده له عامو خلکو سره ښکیلتیا زیاته کړې ده، چې دا چاره د واکمنو چارواکو، دیني عالمانو او ټولو وګړو ترمنځ د یووالي او د دوی لخوا د اطاعت پر اړتیا او همدارنګه د شریعت پر پلي کولو ټینګار کوي. په کابل کې د واکمنو چارواکو مشرتابه هم ځايي ټولنو، دیني عالمانو، توکمیزو اقلیتونو او اکاډمیکي ټولنې د ذهنیت جوړونې او پوهاوي چارې روانې ساتلي دي. د داعش خراسان څانګې بریدونه او د نورو وسلوالو مخالفینو ځیني کوچني بریدونه لا هم دوام لري. د اټکل له مخې په افغانستان کې شاوخوا ۲۳،۷ میلیونه

خلک لا هم اړينو بشردوستانه مرستو ته اړتيا لري او په دې برخه کې له ننګونو سره مخ دي. د ۲۰۲۴ کال لپاره د بشردوستانه اړتياوو او غبرګون پلان د نومبر تر ۱۱ نېټې پورې، د ټوليز ۳،۰۶ ميلیارده د اړتيا وړ مالي تمويل څخه يوازې ۳۷،۵ سلنه تمويل شوی دی.

**الف. سياسي بدلونونه**

۴. د راپورونو له مخې د طالبانو مشر څو ځل له عامو خلکو سره ليدنې کتنې کړي دي، چې لويديځو، شمالي او شمال ختيځو ولايتونو ته يو لوی او پراخ سفر هم د يادو ليدنو کتنو يوه برخه ده. نوموړي د اګست مياشتې له پای څخه د سپټمبر مياشتې تر لومړيو پورې، له بادغيس، فارياب، جوزجان، سرپل، بلخ، سمنګان، بغلان، کندز، تخار، بدخشان او هرات ولايتونو څخه ليدنې کړي دي. د ۲۰۲۱ کال د اګست مياشتې راهيسې دا له يادو ولايتونو څخه د نوموړي لومړنۍ ليدنه او د کندهار څخه اوږدمهاله غيابت دی. د راپورونو له مخې، نوموړي د دې سفر پر مهال له ځايي واکمنو چارواکو، قومي مشرانو او ديني عالمانو سره ليدنې کتنې کړي، چې پکې نوموړي د يووالي او د شريعت پلي کولو غوښتنه کړې ده. همدارنګه نوموړي د سپټمبر په ۱۷ نېټه د پوليسو د روزنې اسلامي مرکز کې د فراغت په غونډه کې هم ګډون وکړ او د سپټمبر په ۲۰ نېټه د کابل ولايت له علماوو شورا، او د سپټمبر په ۲۶ نېټه د واکمن نظام ستري محکمې سره وکتل، چې د راپورونو له مخې يې د ټولنيز نظم او اسلامي نظام پر ساتلو ټينګار وکړ. د واکمن نظام د رياست الوزراء سياسي مرستيال، مولوي عبدالکبير او د رياست الوزراء اداري مرستيال، عبدالسلام حنفي له ځايي خلکو، ديني عالمانو، توکميزو اقليتونو او اکاډميکې ټولنې سره په کابل کې خپلو ليدنو کتنو ته دوام ورکړی دی.

۵. واکمنو چارواکو د سپټمبر په ۲۲ نېټه د خپلې کلنۍ حساب ورکونې غونډې پای ته ورسولې. د واکمن نظام ټولټال ۳۶ ادارو، چې ۲۴ وزارتونه او ۱۲ خپلواکې ادارې پکې شامل دي، رسنيو سره خپلې د تېر کال کړنې او لاسته راوړنې شريکې کړې. د يادونې وړ ده چې د تېر کال د ۲۳ وزارتونو او ۱۸ خپلواکو ادارو په ګډون د واکمن نظام د ۴۱ ادارو په پرتله، سږ کال د ټولو ګډون کوونکو ادارو په شمېر کې کموالی راغلی دی.

۶. د واکمن نظام د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د اګست په ۲۱ نېټه په رسمي جريده کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون له خپرېدو وروسته، د روزنيزو پروګرامونو او محتسبينو د شمېر په زياتولو سره، د شريعت پلي کولو هڅې زياتې کړي دي. د واکمن نظام د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزير، محمد خالد حنفي د اګست له ۱۷ نېټې څخه تر ۲۶ نېټې پورې له سرپل، فارياب، جوزجان، ، بلخ، سمنګان، بغلان، کندز، تخار او بدخشان ولايتونو څخه ليدنې وکړې. همدارنګه نوموړي د سپټمبر له ۷ نېټې څخه تر ۹ نېټې پورې زابل، غزني او ميدان وردګ ولايتونو او د اکتوبر له ۲۰ نېټې څخه تر ۲۳ نېټې پورې له ننګرهار، لغمان او لوګر ولايتونو څخه ليدنې وکړې. نوموړي د يادو ليدنو په ترڅ کې د ټولنيز نظم د ساتلو په موخه د ياد قانون د بشپړ پلي کولو پر امر ټينګار وکړ او د سيکولريزم د ترويج لپاره يې په تېر نظام هم نيوکې وکړې. په ورته وخت کې، د اکتوبر له ۳ نېټې څخه تر

۱۲ نېټې پورې یاد وزارت په ۲۰ ولایتونو کې ۲۳ سیمینارونه برابر کړي و او واکمن چارواکي او قومي مشران یې ورته رابللي و، څو د دوی ظرفیت لوړ او د یاد قانون په تطبیق کې ورسره همکاري وکړي.

۷. د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون د سیاسي مخالفو ډلو او همدارنګه ښځو او مدني ټولنې سازمانونو په ګډون، د افغان ډیاسپورا لخوا له سختو نیوکو سره مخ شوی دی. یوناما هم په هېواد کې دننه له خلکو سره د لیدنو کتنو په ترڅ کې د دې قانون په هکله شکایتونه او نیوکې ترلاسه کړي دي او دغه اندېښنې یې له برحاله چارواکو سره شریکې کړې دي. که څه هم، د عامو خلکو نظرونه په ډېره کمه توګه اوریدل کیږي یا راپور شوي چې لامل یې د طالبانو د مشر لخوا د واکمنو چارواکو په پالیسیو او کړنو باندې د خلکو پر نیوکول لګول شوی بندیز دی. نړیوالې ټولنې د دغه قانون د اغیزو په اړه ژوره اندېښنه څرګنده کړې ده. د سپټمبر په ۱۸ نېټه د امنیت شورا لخوا په ګډه اعلامیه کې، د ښځو، سولې او امنیت د اصولو لپاره د ګډو ژمنو د اعلامیې (S/2023/1080، لومړۍ ضمیمه) لاسلیک کونکو د طالبانو له ۷۰ څخه زیاتو فرمانونو د صادرولو چې د ښځو او انجونو حقونه محدودوي، غندنه وکړه.

۸. واکمنو چارواکو د رهبرۍ پر بستونو د طالبانو د وفادارو کسانو چې ټول یې نارینه دي، ګمارلو او تغیر او تبدیل ته دوام ورکړی دی. په ملي کچه یې د وزارتونو لپاره د ۱۱ رئیسانو په ګډون، د وزارتونو لپاره ۶ تنه معینان، د احصائیې او معلوماتو ملي اداري لپاره رئیس، د افغانستان برېښنا شرکت لپاره لوی رئیس، او د اریانا افغان هوایي شرکت لپاره سرپرست رئیس ګمارلي دي. همدارنګه په محلي کچه یې ۳ تنه والیان، ۷ د والیانو مرستیالان، شاوخوا ۱۳ ولایتي رئیسان او لږ تر لږه ۷ ولسوالان په دندو ګمارلي دي.

۹. د واکمن نظام د پوهنې وزارت د سپټمبر په ۱۱ نېټه په یو رسنیز کنفرانس کې راپور ورکړ چې په ټول هېواد کې شاوخوا ۲۱۰۰۰ د دیني زده کړو مرکزونه؛ چې ۱۹۶۶۹ مدرسې، ۱۲۷۷ دارالحفاظونه، ۱۱۵ دارالعلومونه او ۱۱ دارالایتامونه پکې شامل دي، له دولت سره ثبت او راجستر شوي دي. د واکمن نظام د عدلیې وزارت د سپټمبر په ۵ نېټه اعلان وکړ چې د جهادي مدرسو جوړولو قانون د طالبانو مشر ته د تصویب لپاره لېږل شوی، په داسې حال کې چې یاد قانون لا هم خپور شوی نه دی. په اوو ولایتونو کې د واکمنو چارواکو په مرسته او ملاتړ چلېدونکې اووه مدرسې، چې ټولې د نارینه وو لپاره دي، د اګست له ۱۵ نېټې څخه د اکتوبر تر ۲۴ نېټې پورې پرانیستل شوې او د واکمنو چارواکو لخوا ثبت شوو مدرسو څخه ۲۱ نارینه او ۱۵۵ ښځینه دیني عالمان او عالمانې فارغ شول. د راپورونو له مخې، هغه انجونې چې عمرونه یې له دولسو کلونو پورته دي، کولای شي په ځینو ولایتونو کې په یادو مدرسو کې زده کړې وکړي؛ سره له دې چې، د ښځینه زده کوونکو د شمېر یا د موجوده نصاب په هکله لا هم کره معلومات په واک کې نشته.

۱۰. د جمهوریت د وخت نظامي او ملکي متقاعدینو د اګست له ۱۵ نېټې څخه د اکتوبر تر ۳۰ نېټې پورې د واکمن نظام د مالیې وزارت مخې ته پنځه ځلې اعتراضونه وکړل، چې په هر ځل اعتراض یا لاریون کې شاوخوا ۱۵۰

کسانو برخه اخیستې وه. د دوی د تقاعد حقوق د واکمنو چارواکو لخوا ځنډول شوي، چې په دغو اعتراضونو کې یې دوی د ترلاسه کولو غوښتنه وکړه.

۱۱. د واکمن نظام د عدلیې وزارت د سپټمبر په ۱۲ نېټه اعلان وکړ چې د دوی پر تقنیني سندونو نیوکه کول د منلو وړ نه دي او دا په حقیقت کې پر شریعت نیوکه کول دي. دغې وزارت یادونه کړې چې د تقنیني سندونو د تدوین په برخه کې د اکتوبر په ۲۲ نېټه د طالبانو د مشر د فرمان پر بنسټ، د دیني عالمانو یوه کمېټه ټول متنونه تر بیاکتنې لاندې نیسي څو ډاډ ترلاسه شي چې له شریعت سره په ټکر کې نه دي. د واکمن نظام د عدلیې وزارت لسمه رسمي جریده خپره کړه، چې د صنعتي ساحو په هکله قانون، د ځمکو د ویش احکام او څلور فرمانونه پکې شامل دي، چې یو فرمان یې د جبري اعتراف له لارې ترلاسه شوو شواهدو د له منځه وړلو لپاره د واکمن نظام د محاکمو د کار څرنګوالي په اړه دی.

۱۲. د یوناما ساحوي دفترونو د اګسټ له ۱۵ نېټې څخه د اکتوبر تر ۳۰ نېټې پورې د لیدنو کتنو او پوهاوي ۱۹۲ فعالیتونه ترسره کړي، چې له بیلابیلو اړخونو لکه مدني ټولنې، قومي مشرانو، خبریالانو، متشبثینو او ښځو فعالانو سره غونډې پکې شاملې دي. دغو فعالانو د نورو موضوعاتو ترڅنګ پر دغو موضوعاتو لکه: د مدني فعالیتونو لپاره د یوې فضاء برابرولو اړتیا چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون له توشیح او پلي کېدو وروسته یاده فضاء نوره هم راتنګېږي؛ د نارینه او ښځینه وو لپاره د د عصري علومونو په ګډون د ټولو علومو د زده کړې اهمیت او همدارنګه د ځوانانو او د تېر حکومت کارکوونکو لپاره د کار فرصتونو برابرولو اړتیا؛ او د عامې روغتیا، اوبو او کرنې په برخو کې د پرمختللو اسانتیاوو اړتیا باندې ټینګار وکړ. د اګسټ له ۱۵ نېټې څخه د اکتوبر تر ۳۰ نېټې پورې په نهو ولایتونو کې ۲۵ محلي شخړې، چې د کورنیو او ټولنیزو موضوعاتو، ځمکو او اوبو پر سر رامنځته شوې وې، د قومي مشرانو، دیني عالمانو او واکمنو چارواکو په منځګړیتوب حل و فصل شوي دي. ځایي سرچینو ادعا کړې چې ټول ښکیل اړخونه د شخړو د حل بهیر له ترسره کېدو څخه راضي دي.

**ب. امنیت**

۱۳. ملګرو ملتونو د اګسټ له ۱ نېټې څخه د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې د ۲۵۱۰ امنیتي پېښو راپورونه ثبت کړي، چې د تېر کال د ۲۰۲۳ کال د ورته مودې په پرتله ۳۹،۶ سلنه زیاتوالی ښيي. د راپورونو له مخې د داعش خراسان څانګې شپږ برېدونه ترسره کړي، چې په تېرو دریو میاشتو کې د څلورو بریدونو په پرتله زیاتوالی ښيي. سربېره پر دې، د لوټلو ۱۵۶ پېښې ثبت شوي دي، چې د ۲۰۲۳ کال د ورته مودې په پرتله ۲۴،۳ سلنه کموالی په ګوته کوي.

۱۴. د حکومت مخالفو وسلوالو د اګسټ له ۱ نېټې څخه د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې د طالبانو موجوده ځمکنی او ارضي کنټرول پر وړاندې کوم د پام وړ ګواښ ندی پېښ کړی، خو د وسلوالو مخالفینو لخوا د تائید شوو وسلوالو بریدونو ټولیز شمېر په یاده موده کې ۸۱ ته رسېږي. د ملي مقاومت جبهې ۵۶ بریدونه، د افغانستان د ازادۍ جبهې

۱۸ بریدونه او د خلکو د خپلواکۍ جبهې ۱ برید ترسره کړي او په ورته وخت کې د افغانستان د ازادۍ خوځښت د اګسټ په ۲۱ د تحریک طالبان پاکستان پر جنګیالیو د ۱ برید ادعاد کړې، خو د یاد تحریک سرچینو دغه ادعا رد کړې ده. د پنځو نورو بریدونو عاملین تر اوسه پېژندل شوي نه دي. د افغانستان د ازادۍ جبهې د کابل هوايي ډګر په شمالي برخه او د خواجه رواش په استوګنیزه سیمه د اکتوبر په ۲۰ نېټه د هاوان برید ترسره کولو ادعا وکړه. په ټولیزه توګه په مرکزي زون کې ۳۱ بریدونه ترسره شوي، چې یواځې ۲۶ يې په کابل کې ترسره شوي، ورپسې ۲۶ بریدونه په لویدیځ زون کې، ۱۹ بریدونه په شمال ختیځ زون کې، ۴ بریدونه په شمال زون کې او ۱ برید په سویل ختیځ زون کې ترسره شوي دي.

۱۵. د راپورونو له مخې داعش خراسان څانګې د اګسټ له ۱ نېټې څخه د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې ۶ بریدونه ترسره کړي دي. دغې ډلې د اګسټ په ۱۱ نېټه د کابل په دشت برچي سیمه کې پر یو ټونس موټر د بم چاودنه وکړه او ورپسې د اګسټ په ۲۲ نېټه په ننګرهار ولایت کې د نورستان پر امنیه قوماندان برید ترسره کړ. همدارنګه یادې ډلې د سپټمبر په ۲ نېټه په کابل کې د واکمن نظام د فرامینو او حکمونو د څارنې لوی ریاست مخې ته د ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو چاودنه وکړه او د سپټمبر په ۱۲ نېټه يې د غور په چغچران کې پر هزاره وګړو هم برید ترسره کړ. د واکمن نظام د استخباراتو عمومي ریاست ځانګړې څانګې د سپټمبر په ۱۴ نېټه خپل دوه کارکوونکي او د کورنیو چارو وزارت اړوند پنځه نور کسان په هرات کې له داعش ډلې سره د اړیکو په تور ونیول. د راپورونو له مخې داعش خراسان څانګې د اکتوبر په ۵ نېټه په کونړ ولایت کې یوه چاودنه وکړه او له هغې وروسته يې د اکتوبر په ۱۲ نېټه د غور په چغچران کې د واکمن نظام امنیتي ځواکونو ته د کمین په پایله کې مرګ ژوبله واړوله، چې په ترځ کې يې د واکمن نظام د استخباراتو عمومي ریاست د یو کارکوونکي او د غور د مخکني والي د ساتونکي په ګډون درې تنه ووژل شول.

۱۶. د واکمن نظام امنیتي ځواکونو او د پاکستان د سرحدي ځواکونو ترمنځ د اګسټ له ۱ نېټې څخه د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې د ۲۸ وسلوالو نښتو راپور ورکړل شوی دی، چې د راپور ورکونې د تېرې مودې (۱۵ می نه تر ۳۱ جولای پورې) د ۱۶ پېښو په پرتله زیاتوالی ښيي. د ادعاوو له مخې د زیربناوو پراختیا، په ځانګړې توګه د پوستو جوړول د دغو نښتو د رامنځته کېدو لامل شوي دي، چې دغه ډول پیښې د سوداګریزو لارو د تړل کېدو او د ملکي خلکو د بې ځایه کیدو لامل شوي. د اګسټ په ۱۲ نېټه، د ننګرهار ولایت په تورخم بندر کې د نښتو په پایله کې ملکي وګړي بې ځایه شول او د ملګرو ملتونو د کارکوونکو بل ځای ته لېږدېدو او د کډوالۍ د نړیوال سازمان (IOM) ترانزیتي مرکز کې د فعالیتونو د ځنډېدو لامل شوې. په تورخم او د خوست ولایت په ځاځي میدان ولسوالۍ کې په ترتیب سره د سپټمبر په ۶ او ۷ نېټه نښتې وشوې. د سپټمبر په ۱۷ نېټه، د راپور له مخې د پاکستان د کرمې ولسوالۍ په سیمه کې د واکمن نظام امنیتي ځواکونو او پاکستاني ځواکونو ترمنځ ډزې تبادله شوې، وروسته د سپټمبر په ۱۹ نېټه د خوست ولایت په غلام خان بندر کې هم یوه پیښه رامنځته شوه. د سپټمبر په ۲۵ او/یا ۲۶ نېټه د ننګرهار ولایت په ګوشتې ولسوالۍ کې د بلې شخړې راپور ورکړل شو چې وروسته د سپټمبر په ۳۰ نېټه د کونړ ولایت خاص کونړ ولسوالۍ ته هم وغځېده. د اکتوبر په ۶ او ۹ د کندهار ولایت په شورابک کې د نښتو او د اکتوبر په ۷ د کنړ

ولایت په دانګام کې د ډزو راپور ورکړل شوی، چې د ځايي خلکو د بې ځایه کیدو لامل شوي. سربېره پردې، د اکتوبر په ۳۰، د نیمروز ولایت په کنګ ولسوالۍ کې د واکمن نظام سرحدي ځواکونو او ایراني سرحدي ځواکونو تر منځ پر پوله د یوې نښتې راپور ورکړل شوی، چې په ترڅ کې یې یو ملکي وګړی او د واکمن نظام دوه پولیس افسران ووژل شول.

۱۷. د راپورونو له مخې د اګسټ په ۳ نېټه، د یوې چاودنې په پایله کې د کونړ ولایت په وټه پور ولسوالۍ کې د تحریک طالبان پاکستان ډلې یو غړی ووژل شو ا و د سپټمبر په ۲۰ او ۲۹ نېټه د پکتیکا ولایت په برمل ولسوالۍ کې په دوو جلا پېښو کې د یاد تحریک دوه نور غړي په نښه او وژل شول. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند د اکتوبر په ۳۱ نېټه وویل چې"د ترهګریزو ډلو، په ځانګړې توګه د تحریک طالبان پاکستان ډلې پر وړاندې اقدام کول چې په کابل کې پټ دي، د افغان چارواکو اساسي مسؤلیت دی ".

۱۸. ملګرو ملتونو د اګسټ له ۱ نېټې څخه د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې د امنیت او خوندیتوب ۶۷ پېښې چې په مستقیمه توګه د دې سازمان کارکوونکي زیانمنوي، ثبت کړي دي. په دغو پېښو کې ۲ د لوټلو، ۳ د کورونو نه د اموالو پټولو او ۳ غلاوو، ۶ نیونو، ۱۴ د تګ راتګ بندیزونو او د نیونو د ګواښ اړوند ۱۲ نورې پېښې شاملې دي. د خوندیتوب ۱۴ نورو پېښو چې اورونه، سیلاب او پر سړکونو ترافیکي پېښې پکې شامل دي، د ملګرو ملتونو کمپونډونه، دفترونه او ملکیتونه زیانمن کړي دي.

### ج. سیمه ایزه همکاري

۱۹. د واکمن نظام د بهرنیو چارو وزیر، امیرخان متقي په یاوندي کې د اسلامي همکاریو سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو په پنځوسمه غونډه کې ګډون وکړ. د دې غونډې په څنډه کې د افغانستان لپاره د اسلامي همکاریو سازمان د سرمنشي ځانګړي استازي طارق علي بخیت په مشرۍ د اسلامي همکارۍ سازمان پلاوي د بهرنیو چارو له سرپرست وزیر سره وکتل، چې د راپورونو له مخې د نجونو د تعلیم او زده کړې او د ښځو کار او په عامه ژوند کې د هغوی ګډون په اړه یې خبرې وکړې. د چین، ایران اسلامي جمهوریت، پاکستان او فدراتیفي روسیې د بهرنیو چارو وزیرانو د سپټمبر په ۲۷ نېټه په نیویارک کې سره ولیدل او یوه ګډه اعلامیه یې خپره کړه، چې پکې یې د ټول شموله او پراخ بنسټه حکومت جوړولو پر اهمیت سربېره د افغانستان د خپلواکۍ او حاکمیت لپاره یو ځل بیا خپل ملاتړ څرګند وښود، د ترهګرۍ اړوند امنیتي وضعیت په اړه یې اندېښنه وښوده او زده کړو، اقتصادي فرصتونو او په عامه ژوند کې د ښځو د ګډون پر اړتیا یې ټینګار وکړ.

۲۰. د افغانستان په هکله د مسکو فارمټ مشورتي غونډه د چین، هند، ایران اسلامي جمهوریت، قزاقستان، قرغزستان، پاکستان، روسیې، تاجکستان او ازبکستان د ځانګړو استازو او لوړ پوړو چارواکو په ګډون د اکتوبر په ۴ نېټه په مسکو کې جوړه شوه. د واکمن نظام د بهرنیو چارو وزیر د عمده میلمه په توګه په یاده ناسته کې ګډون وکړ. د یادې غونډې ګډونوالو د یوې ګډې اعلامیې په خپرولو سره، په افغانستان کې د ترهګرۍ اړوند امنیتي

وضعیت په هکله ژوره اندېښنه، په سیمه ایز چاپېریال کې د افغانستان د فعال ګډون لپاره ملاتړ او په افغانستان کې د معتدل، مدبر او ټولګډونه حکومت لپاره تمې څرګندې کړې.

۲۱. واکمنو چارواکو د سیاسي او اقتصادي همکارۍ د پراختیا لپاره د سیمې هیوادونو ته سفرونه وکړل. د افغانستان د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر، هدایت الله بدري د یوه پلاوي په مشرۍ د دوه اړخیزو همکاریو پر پراختیا د خبرو اترو په موخه د اګسټ په ۲۸ نېټه ترکمنستان ته ولاړ. نوموړي د سپټمبر په ۲۵ نېټه په مسکو کې د روسیې د انرژۍ د اونۍ په نړیوال فورم کې هم ګډون وکړ. د سپټمبر له ۱۰ نېټې څخه تر ۱۴نېټې پورې د واکمن نظام د اطلاعاتو او کلتور سرپرست وزیر، خیرالله خیرخواه د ملګرو ملتونو د کلتور په نړیواله غونډه کې چې د روسیې فدراسیون په سنټ پیټرزبورګ ښار کې جوړه شوې وه، ګډون وکړ او هلته یې د روسیې د فدراسیون د کلتور له وزیرې اولګا لیوبیمووا او د ازبکستان د کلتور وزیر اوزودبیک نظربیکوف سره هم وکتل او د اړیکو پر پیاوړتیا کې یې د کلتوري ډیپلوماسۍ پر اهمیت خبرې وکړې.

۲۲. د سیمې هېوادونو لا هم پر سوداګرۍ او ټرانزیټ تمرکز لري، چې افغانستان ته د لوړې کچې سفرونه هم پکې شامل دي. د اګسټ په ۱۵ نېټه د اذربایجان د اقتصاد وزارت مرستیال، صاحب ممدوف او د ازبکستان د پانګونې، صنایعو او سوداګرۍ وزیر لذیذ قدرتوف په مشرۍ پلاوي په کابل کې د واکمن نظام د سوداګرۍ او صنایعو له سرپرست وزیر نورالدین عزیزي سره وکتل او د سوداګرۍ، ټرانزیټ او طبیعي زیرمو په برخه کې پر درې اړخیزه همکارۍ یې خبرې اترې وکړې. د اګسټ په ۱۶نېټه د ازبکستان لومړي وزیر عبدالله اریپوف او د واکمن نظام د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال، عبدالغني برادر په کابل کې د ۲،۵ میلیارده ډالرو په ارزښت د دوه اړخیزې پانګونې د پروژو د ۳۵ تړونونو د لاسلیک په مراسمو کې ګډون وکړ. همدارنګه د ترکمنستان د لومړي وزیر د مرستیال او د بهرنیو چارو د وزیر رشید مرادوف په مشرۍ یوه پلاوي د اګسټ په ۲۱ نېټه په هرات کې د واکمن نظام د بهرنیو چارو د سرپرست وزیر په مشرۍ یوه پلاوي سره وکتل او د ګډې پولې د مدیریت او زیربنایي پروژو لکه د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند (تاپي) د ګازو نل لیکې، د اورګاډي پټلۍ او برېښنا په هکله یې خبرې وکړې. د اکتوبر په ۱۰ نېټه د کانونو او پټرولیم وزارت د واکمن نظام د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او د افغانستان لپاره د ازبکستان د ولسمشر ځانګړي استازي، عصمت الله ارګاشیف په حضور کې د جوزجان ولایت د طوطي میدان د ګازو د حوزې د اکتشاف او استخراج تړون له یوه ازبک شرکت سره لاسلیک کړ.

۲۳. د افغانستان په خاروه کې د تاپي ګازو نل لیکې د جوړولو د پرانیستې مراسم د سپټمبر په ۱۱ نېټه د ترکمنستان په مري سیمه کې جوړ شول. په یادو مراسمو کې د واکمن نظام رئیس الوزراء، محمد حسن اخند، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال، بهرنیو چارو وزیر او د ترکمنستان د خلق شورا مشر او ملي رهبر، قربانقلي بردي محمدوف او د یاد هېواد د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر هم ګډون کړی و. ترکمنستان او واکمنو چارواکو په هماغه ورځ د برېښنا د لېږد لپاره د تاپ پروژې د لومړي فاز د کارونو پرانیسته هم وکړه.

۲۴.	یوناما لا هم د سیمه ایزې همکارۍ د هڅو اسانتیا برابروي. یاد ماموریت په کابل کې د میشتو دیپلوماتیکو ماموریتونو سره دوامداره غونډې جوړې کړې او د جون له ۳۰ نېټې څخه د جولای تر ۲ نېټې پورې په دوحه کې د ملګرو ملتونو لخوا ترسره شوو غونډو د تعقیب په ګډون یې له افغانستانه بهر دیپلوماتیکو استازو سره هم لیدنې کتنې او همکاري لرلې ده.

## درېیم: بشري حقونه

۲۵.	د ځانمرګو بریدنو په ګډون، د ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو څخه په استفادي ترسره شوي بریدونه د ملکي تلفاتو د زیاتوالي تر ټولو ستر لامل دی. د راپور ورکونې مودې پر مهال د دغه ډول بریدونو په پایله کې ۸۷ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې، چې ۱۶ ملکي وګړي (۸ نارینه، ۱ مېرمن او ۷ هلکان) پکې وژل شوي او ۷۱ تنه (۵۷ نارینه، ۷ مېرمنې، ۶ هلکان او ۱ انجلۍ) پکې ټپیان شوي دي.

۲۶.	د ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو او ځانمرګو بریدونو په پایله کې، چې پړه یې معمولاً داعش خراسان څانګه پر غاړه اخلي او واکمن چارواکي او شیعه وګړي په نښه کوي، ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې چې په لاندې ډول ده. د کابل په دشت برچي سیمه کې د اګست ۱۱ نېټې برید چې پړه یې داعش خراسان څانګې په غاړه واخیسته، په پایله کې یې یو ملکي وګړی ووژل شو او ۱۳ نور ټپیان شول چې ټول هزاره وګړي وو. همدارنګه د ننګرهار په ولایت کې د اګست په ۲۲ نېټه د ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو چاودنې چې موخه یې د نورستان ولایت د پولیسو قوماندان و، په پایله کې یې ۶ هلکان مړه او ۴ نور ملکي وګړي ټپیان شول. د سپټمبر په ۲ نېټه په کابل کې په ځان پورې تړل شوو چاودېدونکو توکو چاودنې لږ تر لږه ۶ ملکي وګړي مړه او د یوې مېرمنې په ګډون یې ۲۹ تنه نور ټپیان کړل. په ورته وخت کې د غور او دایکنډي ولایتونو ترمنځ سرحد کې د سپټمبر په ۱۲ نېټه برید وشو، چې په پایله کې یې ۱۴ ملکي وګړي ووژل شول او ۴ نور ټپیان شول، چې ټول شیعه مذهبه هزاره وګړي وو.

۲۷.	ناچاوده توکي هم د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل شوي، چې زیاتره قربانیان یې کوچنیان دي. د بېلګې په توګه، د اکتوبر په ۳ نېټه د سرپل په ولایت کې د یوې ناچاوده مرمۍ په چاودنه کې څلور هلکان ووژل شول او یو بل ټپي شو. د راپور ورکونې مودې پر مهال ټولټال ۱۶ ملکي وګړي وژل شوي، چې ۱۵ یې هلکان او ۱ انجلۍ ده او ۳۵ نور ټپیان شوي، چې ۹ سړي، ۴ ښځې، ۱۹ هلکان او ۳ انجونې پکې شامل دي.

۲۸.	د اګست په ۱۲ نېټه د ننګرهار ولایت په مومندرې ولسوالۍ کې د واکمن نظام امنیتي ځواکونو او د پاکستان امنیتي ځواکونو ترمنځ وسلواله نښته وشوه، چې په پایله کې یې یو ملکي وګړی، یوه مېرمن او یو هلک ووژل شول او دوه نور ملکي وګړي او یو هلک ټپیان شول. همدارنګه د سپټمبر په ۷ نېټه د خوست په ځاځي میدان ولسوالۍ کې هم د دوی ترمنځ وسلوالې نښتې رامنځته شوې، چې له امله یې یو ملکي سړی او یوه ښځه ووژل شول او پنځه نور ملکي وګړي ټپیان شول.

۲۹.	د ۲۰۲۱ کال په اګسټ کې د واکمنو چارواکو لخوا اعلان شوې عمومي بښنې څخه په سرغړونې، د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د غړو پر وړاندې د بشري حقونو د سرغړونو راپور هم ورکړل شوی دی. يوناما په دغه موده کې د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د غړو د وژنو ۵، د خپل سري نيونو او توقيف ۱۴ او د ربړونې او ناسم چلند ۴ پېښې ثبت کړې دي.

۳۰.	واکمنو چارواکو په عام محضر کې د تعزيري مجازاتو پلي کولو ته دوام ورکړی دی. د بېلګې په توګه، د سپټمبر په ۷ نېټه په غور ولايت کې د درې مېرمنو په ګډون اووه تنه د نامشروع جنسي اړيکو او زنا په جرم په عام محضر کې په دُرو ووهل شول. د راپور ورکونې مودې پر مهال په ټوليزه توګه، لږ تر لږه ۱۰۸ تنو باندې (چې ۸۱ نارينه، ۲۶ ښځې او ۱ انجلۍ پکې شامل دي) تعزيري سزاګانې تطبيق شوي دي.

۳۱.	د واکمن نظام د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت په بېلابېلو لارو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون د تطبيق لپاره د اګسټ په ۲۱ د ياد قانون له خپرېدو وروسته، ځينې اقدامات ترسره کړي دي، په ځانګړې توګه، د ياد وزارت د محتسبينو عامو او خاصو ځايونو ته د ورتګ پر مهال څارنه کړې او خلکو ته يې لارښوونې کړې دي. د طالبانو مشر د اکتوبر په ۲ نېټه واليانو ته دنده سپارلې څو د دې قانون د تطبيق په موخه ځايي کمېټې جوړې کړي، چې د بېلابېلو ولايتي رياستونو څخه تشکيل شوي وي. د وېښتانو جوړونکي يا حجامان د "غير اسلامي" د ږيرې او وېښتانو جوړولو له امله لا هم نيول کېږي. د موټر چلوونکو لخوا د نارينه محرم پرته له يو ځای څخه بل ځای ته د ښځو لېږدول، آن دا چې د لنډ واټن لپاره وي، او همدارنګه عامه ځايونو ته د دوی ورتګ او ازاد ګرځېدل منع کړای شوي دي. يوناما داسې موارد مستند کړي چې موټر چلوونکو هغو ښځو ته چې يوازې سفر کوي، د دوی له وړلو راوړلو څخه انکار کړی دی. پخوانيو فرمانونو کې ويل شوي وو چې دوی کولای شي يوازې د ۷۸ کيلومترو په واټن کې يوازې سفر وکړي. د واکمن نظام د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د پاليسۍ او مسلکي چارو مرستيال د اکتوبر په ۳ نېټه په يوه رسنيزه مرکه کې څرګنده کړه چې مېرمنې کولای شي "د اړتيا په صورت کې" د توکو او شيانو د پېرلو په څېر کړنو کې له عامو خلکو سره خبرې وکړي.

۳۲.	د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون حنفي فقه د نيکو او بدو اعمالو د تعريف لپاره د شرحې او تفسير سرچينه بللې او ټول هغه سمبولونه، کړنې او مراسم يې چې غير اسلامي بلل کېږي، منع کړي دي. د سپټمبر په ۹ نېټه د واکمن نظام د پوهنې وزارت خپلو ولايتي رياستونو ته لارښوونه وکړه څو له تعليمي بنسټونو څخه هغه کتابونه راټول او له منځه يوسي چې له حنفي فقهې سره په ټکر کې وي. همدارنګه د دغې قانون له مخې د ژونديو موجوداتو د انځورونو خپرول هم منع شوي، او په ځينو ولايتونو کې واکمنو چارواکو خبرېالانو ته لارښوونه کړې چې د ژونديو موجوداتو د انځورونو خپرول بند کړي. د دغه بنديز په پايله کې په بادغيس، کندهار او تخار ولايتونو کې ځينو تلويزيونونو خپل فعاليتونه ودرول.

۳۳.	د بیان ازادي د دوو نویو محدودیتونو له امله نوره هم زیانمنه او محدوده شوه. د واکمن نظام د ریاست الوزراء معاونیت دفتر د سپټمبر په ۲۰ نېټه یوه لارښود خپور کړ، چې پکې دیني عالمان په خپلو خبرو او بحثونو کې د لانجمنو مسایلو په هکله له نظر ورکولو منع شوي دي. د بیلګې په توګه، په دغو مسایلو کې هغه موضوعات شامل دي، چې د دوی په فکر د خلکو تر منځ د فتنې، یا د عامو خلکو ترمنځ د "موضوعاتو د نه پوهیدو له امله" د ناسم پوهاوي لامل شي. د واکمن نظام د اطلاعاتو او کلتور وزارت د سپټمبر په ۲۱ نېټه له رسنیو سره د غونډه پر مهال له دوی غوښتي څو سیاسي خپرونې او بحثونه له مخکې ثبت کړي او حساس محتویات یې ایډیټ یا اصلاح کړي. سربېره پر دې، د بحثونو او خپرونو میلمانه یوازې له هغه نوملړ څخه رابلل کېدای شي چې د نظر ورکوونکو لخوا له مخکې تائید شوی دی، چې یوازې دوه مېرمنې په دغه نوملړ کې شامل دي. د رسنیو هغه کارکوونکي چې پر واکمنو چارواکو یې نیوکه کړې، په خپل سري توګه توقیف او بندیان شوي دي.

۳۴.	د انجونو او مېرمنو پر حقونو، په تېره بیا له شپږم ټولګي پورته زده کړو او بیلابیلو کاري سکتورونو، باندې لګول شوي بندیزونه لا هم پر ځای دي. د ۲۰۲۴ کال په اګسټ کې په دوو ولایتونو (خوست او پکتیا) کې راډیوګانو ته لارښوونه وشوه چې له شپږم ټولګي پورته انجونو لپاره د تعلیمي پروګرامونو خپرول بند کړي. که څه هم مېرمنې کولای شي مارکیټونو یا ځینو نندارتونونو ته لاړې شي، خو لا هم د واکمنو چارواکو له محدودیتونو او توپیري چلند سره مخ دي. د اکتوبر له ۱۵ څخه تر ۱۷ نېټې پورې، په خوست ولایت کې ښځو ته د واکمنو چارواکو لخوا اجازه نه وه ورکړل شوې چې په ملي ننداړتون کې، یا د پلورونکو یا هم لیدونکو په توګه، ګډون وکړي. د ښځینه متشبثینو محصولاتو ته یوازې په دې شرط اجازه ورکړل شوې وه چې یوازې د نارینه وو لخوا به ننداړې ته وړاندې کېږي.

۳۵.	د سرمنشي ځانګړي استازي د اکټوبر په ۸ نېټه د زندانونو چارو د سمون ادارې له عمومي رییس، محمد یوسف مستري سره وکتل، چې نوموړي د بندیانو د وضعیت د ښه کولو په برخه کې د یاد ریاست ژمنتیا څرګنده کړه. نوموړي همدا راز پر پرله پسې ننګونو او د زندانیانو د ژوندانه د ښه والي لپاره د روغتیایي خدمتونو، تغذیې، ښوونې او روزنې او حرفوي زده کړو په برخو کې د لا زیاتو مرستو پر اړتیا ټینګار وکړ. په راپور کې ویل شوي چې د زندانیانو لپاره به دا ژمی ډېر سخت وي ځکه چې ډیری زندانونه بریښنا یا جنراتورونه او تیل نه لري ترڅو د اساسي شیانو له کمپلو په څېر زندانیانو ته ګرم ځای برابر شي. د یادې ادارې عمومي رییس له یوناما سره د دوامدارې همکارۍ ژمنه وکړه، چې د افغانستان په ټولو زندانونو کې د ښځینه بندیانو د استوګنې په ګډون، د یوناما د بشري حقونو ټیمونو ته د دوامداره لاسرسي څرګندونه کوي.

۳۶.	ځانګړي استازي د اکتوبر په ۸ نېټه په کابل کې د څرخي پله له زندان څخه لیدنه وکړه. نوموړې په خپله لېدنه کې ځینې د اندېښنې وړ مسایل په ګوته کړل لکه: د وړو جرمونو مجرمینو په ګډون په زندانونو کې د زندانیانو د شمېر زیاتوالی، د زیان منونکو بندیانو په تېره بیا مېرمنو لپاره د کافي حقوقي مرستو نشتون څو د واکمن نظام محاکمو ته د حاضرېدو پر مهال له دوی سره مرسته وکړي، او له محاکمې مخکې پرېکړې ته په انتظار د اوږدې مودې لپاره د زندانیاتو په توقیف کې ساتل. د زندانونو چارو د سمون ادارې په خپل راپور کې ویلي، چې د اکتوبر تر ۲۴ نېټې

پورې، د ۱۹۰۰ مېرمنو، ۱۴۰۰ تنکیو ځوانانو او ۱۰۰ بهرنیو وګړو په ګډون، له ۲۶۰۰۰ څخه زیات کسان له دوی سره بندیان دی، چې تر دا مهاله تر ټولو زیات شمېر په ګوته کوي.

۳۷. د ملګرو ملتونو د ښځو ځانګې، کډوالۍ نړیوال سازمان او یوناما لخوا د اکتوبر له ۱۳ نېټې څخه تر ۲۳ نېټې پورې په ترسره شوو سلا مشورو کې، د ښځو او سړو په تړاو د واکمنو چارواکو د پالیسیو د اغېزو په هکله د هېواد په کچه معلومات راټول شول. هغه مېرمنې چې مشورې ورسره شوي، په ودونو کې د وروسته والي یا شاتګ څرګندونه کړې، چې لامل یې د پلار واکه ټولنیزو نورمونو ژوروالی، د منځنیو زده کړو بندیدل، اقتصادي ستونزې او د ښځو لپاره د دندو او زده کړو فرصتونو نشتوالی ښودل شوی دی. ښځو او نارینه وو راپور ورکړی چې په تیرو دریو کلونو کې د دوی په ټولنو کې اجباري ودونه، د کم عمره ماشومانو ودونه، او څو ودونو کول ډیر عام شوي دي. هغو مېرمنو چې سلا مشورې ورسره شوي، یادونه کړې چې د سختو ټولنیزو او قانوني عواقبو ویره او موجوده ټولنیز نورمونه ډیری وختونه میرمنې او نجونې دې ته اړ باسي چې د ودونو دغه ډول دودونو ته غاړه کیږدي. ښځو او نارینه وو دا خبره هم کړې، چې په تېرو دوو میاشتو کې په ډېرو ځایونو کې واکمنو چارواکو د ښځو پر وړاندې له محرم او بشپړ حجاب پرته په عامه او شخصي ترانسپورت کې د دوی پر تګ راتګ سخت بندیز لګولی او د هر موټر په مخکنې څوکۍ کې یې له دوی له کیناستو منع کړې دي. ډیری ځواب ویونکو یادونه کړې چې دوی په عامه ځایونو کې د ځیرک موبایلونو له کارولو څخه ویره لري، چې د راپورونو له مخې د واکمنو چارواکو لخوا د پلټنې په محلونو کې د انځورونو، موسیقۍ او اړیکو د کاریالونو د لیدلو په موخه د دوی موبایلونه کتل کېږي، محتواګانې یې حذفېږي او په ځینو حالاتو کې ترې موبایلونه ضبط او اخیستل کېږي.

**څلورم: اقتصادي پراختیا، د تمویل کوونکو همغږي او د مرستو اغیزمنتوب**

۳۸. د افغانستان اقتصاد د پرله پسې ننګونو، لکه بیکارۍ، بې وزلۍ او ټیټې بشري پانګې با وجود، د بیا رغونې ځینې نښې نښانې له ځانه ښودلې دی. د انفلاسیون کسر کمزوره تقاضا منعکس کړې، کوم چې د پرله پسې شپاړس میاشتو لپاره دوام درلود. د ۲۰۲۴ کا د اګست په میاشت کې، اصلي انفلاسیون د ۲۰۲۳ کال د ورته مودې په پرتله، په ترتیب سره د ۶،۷ او ۱،۴ سلنې راټیټ شوی دی، چې په لویه کچه د کرهنیزو محصولاتو د ښه والي، د کورني اسعارو د پایښت، او په دوامداره توګه د عمومي خدمتونو او تقاضا د کمښت له امله دي. د ۲۰۲۴ په لومړیو ۸ میاشتو کې، د سوداګریز راکړه ورکړې کمښت ۶،۵ ملیارد ډالرو ته پراخه شوه، چې د کلني ناخالص کورني تولید ۲۸ سلنه جوړوي، چې د ۲۰۲۳ کال د ورته مودې په اندول چې ۴ ملیارد ډالر او(۲۳ سلنه) و، ۳۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ۲۰۲۴ کال د جنوري څخه تر اګست میاشتې پورې کلنې صادرات ۱۴ سلنه کم شوي ۹۲۰،۵ ملیون ډالر، چې په عمده توګه د پاکستان د هیواد سره د سوداګرۍ د ډاینامیکونو له امله دی. د ۲۰۲۴ کال د جنوري څخه بیا تر اګست میاشتې پورې واردات ۶،۵ ملیارد ډالرو ته لوړ شوي، چې د ۲۰۲۳ د ورته مودې په پرتله ۲۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د وارداتو په ترکیب کې جحان د پانګې اچونې په برخه کې د مخ پر ودې خوځښت په ګوته کوي. د ۲۰۲۴ کال د سپټمبر په میاشت کې د لویو اسعارو په وړاندې د سوداګریز کسر د پراخیدو باوجود، افغانۍ د ۲۰۲۱

کال د اگست د میاشتې په پرتله د متحده ایالاتو د ډالرو په مقابل کې ۲۵،۷ سلنه پیاوړې پاتې شوی دی. د داخلي عوایدو را ټولول د ۲۰۲۴ کال د مارچ په میاشت کې نږدې ۱،۶ ملیارد ډالرو (۱۱۰،۹ ملیارد افغانیو) ته رسیدلی، چې ۱۰ سلنه کلنې زیاتوالې منعکس کوي چې د داخلي عوایدو د زیاتوالي له امله په ځانګړې توګه د غیر مالیاتو عوایدو څخه ناشي شوي دي.

۳۹. د اکتوبر د میاشتې په ۶ نېټه، اوسنې چارواکو په کابل کې یو شپږ ورځنی سوداګریز نندارتون پرانیست چې د افغانستان د سوداګرۍ او پانګه اچوونې خونې له خوا جوړ شوی و، چې د راپور له مخې په کې د خصوصي سکتور د ملاتړ په موخه چې په افغانستان کې پانګونه وکړي، د ۷۰۰ شرکتونو په ګډون، او د حوزې څخه ۲۰۰ شرکتونو پکې ګډون کړی وو. ښځینه متشبثینو ته د هغوی د تولیداتو د ښودلو لپاره غرفې ځانګړې شوې وې؛ په هرصورت، د امر بلمعروف او نهی عن المنکر د قانون له تصویب راهیسې د سوداګرو میرمنو لپاره خنډونه او محدودیتونه زیات شوي دي. په ملي او سیمه ایزه کچه د خصوصي سکتور غړو د ویزو، بانکي معاملو او بازارونو ته د لاسرسي په اړه د ننګونو راپور ورکولو ته دوام ورکړی دی، چې په هغه کې د اکتوبر د میاشتې په ۱۴، ۲۰ او ۲۸ نېټو کې د یوناما سره غونډې ترسره کول هم شاملې دي.

۴۰. اوسنې چارواکو د سپتمبر د میاشتې په ۳۰ د کابل په شاوخوا کې د ۲۴۰ میګاواټه بریښنا د تولید لپاره د دریو قراردادونو لاسلیک کولو په اړه معلومات ورکړ او په ترتیب سره د اکتوبر د میاشتې په ۸ او ۱۹ نېټو په کابل کې د دوه سولر بریښنا پلانټونو د جوړولو کار پیل شو. د اکتوبر د میاشتې په ۱۰ نېټه، د افغانستان اوسنې چارواکو په فاریاب او جوزجان ولایتونو کې هم د طوطي میدان د ګازو د زېرمو د اکتشاف او استخراج لپاره له یوه ازبک شرکت سره یو تړون لاسلیک کړ، چې د یو کال په موده کې د ۱۰۰ میلیونو ډالرو او د ۱۰ کلونو په موده کې یو میلیارد ډالرو په ارزښت پانګونې ته زمینه برابروي. اوسنې چارواکو د اکتوبر د میاشتې په ۲۹ نېټه په جوزجان ولایت کې له یوې ترکي کمپنۍ سره چې د راپورونو له مخې ۱۶۳ میلیونه ډالره ارزښت لري، د ۳۰ کلونو لپاره سیمنټو د تولید قرارداد لاسلیک کړ. تر دې وړاندې د سپېمبر د میاشتې په ۲۱ نېټه د اوسنې چارواکو د کانونو او پټرولیم وزارت ویلي وو چې اوس مهال د کانونو ۱۶۷ کوچنۍ او ۱۲ لویې پروژې فعالې دي او په تېر کال کې ۸۰ کوچنۍ او ۱۳ لویې قراردادونه لاسلیک شوي دي. همدارنګه دوی وویل چې په تیر مالي کال کې د کانونو د عوایدو له درکه نږدې ۱۵۴ ملیون ډالرو (۱۰،۴ ملیارد افغانیو) او په روان مالي کال کې ۶۵،۲ ملیون ډالرو (۴،۴ملیارد افغانیو) راټول شوي دي، چې ځینې یې د زیربناوو تمویل لپاره ځانګړي شوي دي. دا ارقام د خپلواکو سرچینو لخوا ندي تاییدشوي.

۴۱. د اوسنې چارواکو مرکزي بانک د پیسو مینځلو او د تروریزم د تمویل سره د مبارزې په اړه د غونډو په اړه راپور ورکړ، د اګست د میاشتې په ۲۰ د لوړې کچې همغږۍ کمیسیون اتمه غونډه کې او د سپتمبر د میاشتې په ۱۷ نېټه د رعایتولو د همغږۍ کمیټې لسمه ناستې په ګډون. د اوسنې چارواکو مرکزي بانک د سپتمبر د میاشتې په ۲۹، د پیسو مینځلو په وړاندې د اتباعو دندو په اړه یو بیان خپور کړ، دوی یې وهڅول چې بانک ته د شکمنو معاملو راپور ورکړي. وروسته، د اکتوبر د میاشتې په ۴، د اوسنې چارواکو مرکزي بانک اعلان وکړ د کورنیو چارو له وزارت

سره د تفاهم یادښت چې موخه یې د پیسو مینځلو او مالي جرمونو سره د مبارزې په برخه کې دی او د همکارۍ زیاتوالی پخاېر دغه تفاهم لیک یې بیا لاسلیک کړی دی. په همدې حال کې، د سپتمبر د میاشتې په ۶ نېټه، د افغانانو لپاره په سویس کې د میشت صندوق د دوه نورو کلونو لپاره د خپل څلور کسیز بورډ د تمدید خبر خپور کړ.[1]

۴۲. د افغانستان د همغږۍ ډلې، چې د تمویل کوونکو او نړیوالو مرستندویه همکارانو څخه تشکیل شوی دی، د اکتوبر د میاشتې په ۲ او ۳ نېټو کې د متحده عربي اماراتو په دوبۍ کې خپله عمومي غونډه ترسره وکړه. پداسې حال کې چې د امر بلمعروف او نهي عن المنکر قانون او د مرستې رسولو په اړه د هغې احتمالي اغیزو په اړه اندیښنې څرګندې کړې، په ځانګړې توګه د ښځو د ګډون په اړه، ډله د بشري مرستو څخه د دوامدار لومړنې بشري اړتیاوو ته د روان ستراتیژیک لیږد ملاتړ لپاره خپله ژمنه بیا تکرار کړه تر څو د افغان وګړو د انعطاف د پیاوړیکولو لپاره مرسته وکړي. موضوعي بحثونه لکه روغتیا، تعلیم، معیشت، د جنډر پروګرامونه او د اقلیم انعطاف تر پوښښ لاندې نیول شوي دي.

۴۳. د سپتمبر د میاشتې په ۳۰ نېټه ملګري ملتونه او نړیوال بانک په دوبۍ کې د ګواښ مدیریت یو ورځنۍ ورکشاپ جوړ کړ. ورکشاپ د افغانستان د همغږۍ ډلې غړو ته د ملګرو ملتونو د ګډې ګواښ مدیریت کړنلارې په اړه تازه معلومات وړاندې کړل، په افغانستان کې د ننګونکي عملیاتي چاپیریال کې د ګواښونو د کمولو ستراتیژیو په ګوته کړل، او همدارنګه په افغانستان کې د مرستو انعطاف ضد هڅو په اړه یو پریزنټیشن وړاندې کړ چې پکې د ډونرانو د مرستو په کارولو کې روڼتیا او د مرستو په ویش کې پر حساب ورکولو باندې ټینګار کړي و.

۴۴. د اکتوبر د میاشتې په ۱، د افغانستان لپاره د ځانګړي وجهي صندوق رهبري کمیټه په دوبۍ کې غونډه وکړه ترڅو د صندوق د بیا تنظیم کولو په اړه بحث وکړ تر څو د داخلي بې ځایه شویو او راستنیدونکو د دوامداره بیا یوځای کیدو لپاره د بې ځایه کیدو حلونو باندې تمرکز وکړي. د باور د وجهي صندوق لخوا د زیات خو کوچنې تمویل کمپاین هم پیل شوی ترڅو د ځایي سوداګرۍ په رامینځته کولو کې د بې ځایه شویو افغانانو سره مرسته وکړي تر څو په دې توګه د پایښت لرونکي معیشت سره مرسته شوي وي.

۴۵. د هغو روانو ننګونو په غبرګون کې چې کلیوالي ټولنې ورسره مخ دي، د کوکنارو د کښت د بندیز له امله اغیزمن شوي خلکو په ګډون، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام، د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان او د مهاجرت نړیوال سازمان په ګډه د افغانستان د ټولنې انعطاف پروګرام د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په میاشت کې پیل کړ. د ۱۶،۲ ملیون ډالرو تمویل سره دغه پروګرام به تر ۲۰۲۶ پورې پلي کیږي، دا نوښت د کرنیزو محصولاتو

---

[1] د افغانستان د خلکو لپاره وجهی صندوق د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر په میاشت کې د یو غیر انتفاعې نهاد په ډول په ژنو کې رامنځته شو تر څو دغه وجهه خوندی او محفوظ شی او همدرانګه د تعین شویو موخو په هدف دغه وجهه د افغان ولس د ګټو په خاطر وکارول شي. دغه وجهه د باور شوي بورډ لخوا تنظیم کیږي چې اوس مهال د هغه په تشکیل کې د امریکا د متحده ایالاتو، سویزلند د هیوادونو حکومتې استازی او دوه تنه افغان اقتصادی متخصصین شامل دي. د متحده ایالات د دغه وجهې صندوق رامنځته کول د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر د میاشتې په ۱۴ نېټه کې اعلان کړ.

زیاتوالی، د معیشت تنوع او د کندهار، هلمند او بادغیس ولایتونو په ګډون، مارکیټ ته لاسرسی پر پیاوړتیا په زیاتوالي باندي تمرکز کوي.

۴۶. د افغانستان د جنسي ناوړه ګټه اخیستنې شبکې د خپلو ۳۱۵ غړو سازمانونو، د ملګرو ملتونو، غیر دولتي او مدني ټولنې سازمانونو او تمویل کونکو په ګډون، په منځ کې د فعال همکارۍ ځواکمن کړي تر څو د امر بلمعروف او نهي عن المنکر د نوي قانون د اعلان او پلي کیدو وروسته چاپېریال سره ځانونه عیار کړي. پدغه فعالیت کې د شبکې له غړو سره سلا مشورې، د تخنیکي متخصصینو لخوا معلومات او د اوسنې چارواکو د کار او ټولنیزو چارو له وزارت سره ښکیلتیا شامله وه ترڅو د ښځو لاس رسی او د جنسي ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي او غبرګون په برخه کې د شبکې د هڅو خوندیتوب او تراو یقیني شي. د ملګرو ملتونو د هیواد په کچه ټیم د جنسي استحصال او ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي لپاره د معیاري عملیاتي طرزالعملونو په اړه غونډې جوړې کړې، چې د خوندي سرچینې ډاډمن کولو او د جنسي ناوړه ګټه اخیستنې او ځورونې قضیو لپاره د راپور ورکولو او معلومات ورکولو میکانیزمونو باندې تمرکز کوي.

**پنځم: بشري مرسته**

۴۷. اټکل کیږي چې په افغانستان کې ۲۳،۷ ملیونه خلک د خورا جدي بشري ناورین سره مخ دي، چې په دوامداره توګه د جدي خوراکي ناخوندیتوب، خوارځواکۍ، پراخه بې ځایه کیدل او د چاودیدونکو موادو ککړتیا په بنه ښکاره کیږی. پرله پسې طبیعي ګواښونه، د ناروغیو خپریدل او د اقلیم بدلون، وضعیت پیچلی کوي. د امر بلمعروف او نهي عن المنکر قانون د افغانانو په ځانګړې توګه د ښځو او اقلیتونو پر وړاندې محدودیتونه لاپسې سخت کړل. بشردوستانه فعالین د دغه قانون اغیزې له نږدې څاري، په ځانګړې توګه په مرستندویه پروګرامونو کې د افغان میرمنو ګډون، پداسې حال کې چې د دا ډول اغیزو د کمولو په خاطر اقدامات پیاوړي کوي تر څو د ژوند ژغورنې مرستو دوام ډاډمن کړای شي.

۴۸. د اکتوبر د میاشتې په ۲۸ نېټه، ځانګړي استازي، د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (یونیسف) او د پروژې خدمتونو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر سره ګډه په کابل کې د اوبو د روان بحران د څارلی دی. پلاوي اوبو ته د لاسرسي په برخه کې د پرله پسې ننګونو شاهد و، په ځانګړې توګه د ناروغیو په وړاندي ښځو او ماشومانو زیان منونکې اغیزې او ټولنیزو ننګونې. دوی همدارنګه د اقلیم د فشارونو له امله د ځمکې لاندې اوبو د سخت کمښت یادونه وکړه، یو داسې وضعیت چې په ټ،ل هیواد کې د اوبو د کمښت رجحان منعکس کوي.

۴۹. د سپتمبر په میاشت کې، د جندر د بشردوستانه عمل کاري ډله او د بشردوستانه لاسرسي کاري ډلې، د امر بلمعروف او نهي عن المنکر قانون په ګډون، د غیر دولتي موسسو او ملګرو ملتونو لپاره د افغان میرمنو په کار کولو د بندیزونو او د نورو د محدودیتونو په ګډون، د دوامداره اغیزې په اړه خپله نهمه سروې ترسره کړه. موندنو څرګنده کړه چې ۶۰ سلنه بشردوستانه سازمانونو راپور ورکړی چې قانون ښځې او نجونو ته د لاسرسي مخه نیسي، د هغو

مسلو په حواله چې د حرکت محدودیتونه، د جامو سلوک پلې کول او د محرم اړتیاوې، په عملیاتو باندې اغیزه کوي.

۵۰. د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ څخه تر سپتمبر میاشتې پورې، بشردوستانه شریکان ۱۵،۳ ملیون خلکو ته مرسته رسولې دې - د ۱۷،۳ ملیون تعین شوی هدف، ۸۸ سلنه جوړوي – لږ تر لږه یو ډول بشري مرستې سره، او تر ۲،۸ ملیون خلکو ته د درېو بیلابیلو سکتوري مرستو سره. ټولټال ۹.۹ میلیونه خلکو د خوړو او معیشت ملاتړ، ۵.۸ میلیونه خلکو ته روغتیایي خدمتونه، ۳.۸ میلیونو ماشومانو او امیندوارو او شیدو ورکوونکو ښځو د تغذیې مرستې، ۴.۶ میلیونه خلکو ته د ساتنې مرستې، ۳.۷ میلیونه خلکو د اوبو او روغتیا ساتنې مرستې، ۷۸۹۱۸۸ کسانو بېړنۍ سرپناه او غیر خوراکي توکي او د ۵۵۳۷۶۹ ماشومانو ته د تعلیم مرستې رسول شوي دي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۴ کال د نومبر د میاشتې تر ۱۱ پورې، د بشري اړتیاوې او ځواب ورکونې پلان د خپلو ۳،۰۶ ملیارد ډالرو اړتیاو څخه یوازې ۳۷،۵ سلنه (۱،۱۵ ملیارد ډالر) ترلاسه کړي دي.

۵۱. اټکل شوی ۱۲.۴ ملیون خلک د خوراکي خوندیتوب له بحران یا بیړنۍ کچې سره مخ وي (د خوړو د خوندیتوب مرحلې ډلبندی، ۳ مرحله او پورته) – لکه څنګه چې د ۲۰۲۳ کال د ورته مودې په پرتله په دریم او پورته مرحلو کې، ۱۵،۲۵ ملیون خلک وو – چې د نورو فکتورونو په منځ کې لږ پرمختګ ښيې، چې د بشري بیړنې خوراکي مرستو لوړې کچې، کرنیزې مرستې او د معیشت ملاتړ ته نسبت ورکول شوی دی. د ۲۰۲۴ کال د مارچ او اپریل په میاشتو کې مناسب باران د وچکالۍ شرایط کم کړل چې دتمې وړ حاصلاتو څخه لا ښه فصل راټول شي، په ځانګړې توګه د غنمو لپاره، چې د خوراکي توکو شتون ته وده ورکوي او د خوراکي توکو بیې ثبات ساتي. په هرصورت، ښځې او نجونې په غیر متناسب ډول اغیزمنې پاتې دي ځکه چې د محدودو ټولنیزو نورمونو او د اوسنې د چارواکو لخوا لګول شوي محدودیتونه، د امر بلمعروف او نهی عن المنکر د قانون په ګډون. میاشتنۍ بیړنۍ خوراکي او تغذیې مرستې، چې پخوا د ژمي په میاشتو کې ۷ ملیون خلکو ته رسیدلې، د بودیجې د کمښت له امله د جون څخه تر اکتوبر پورې ۱،۲ ملیون ته راټیټ شوی دی. د نومبر څخه، د خوړو نړیوال پروګرام د مرستې اندازه بیرته له ۶ ملیون څخه ۷ ملیون خلکو ته رسولې، چې لاهم د اړتیا وړ نیمایي څخه لږ دی.

۵۲. بشردوستانه ادارې د ژمي په اوږدو کې د ۶ ملیون زیان منیدونکو خلکو سره د مرستې لپاره ۶۲۰۰۰ مټریک ټنه خوراکي توکي چمتو کوي. پداسی حال کې چې ۴۵ سلنه ماشومان د پنځو کلونو څخه کم عمر لري، او ۱۴ سلنه د شدید خوارځواکۍ سره مخ دي. یونیسف، د ټولنې پر بنسټ د تغذیې پروګرامونو له لارې، د ۲،۱ ملیون څخه ډیر ماشومان د ضایع کیدو لپاره معاینه کړي، چې د ۱۳۳۰۸۰ د شدید ضایع کیدنې درملنه کیږي.

۵۳. د جولای څخه تر سپتمبر تر میاشتې پورې، د کرنې او خوراک سازمان د ۴۰۹۹۹۷ ګټه اخیستونکو سره د پراخ تعامل له لارې مرسته کړې، د ۲۱۱۸ خلکو لپاره د بیړنې معیشت د مرستې په ګډون. همدارنګه یې ۶۴۹۳۹۱ څاروي د پوستکي د ناروغۍ په وړاندې واکسین کړې. د طبیعي سرچینو مدیریت هڅو د بیا کرلو لپاره ۳۸۵۶ کیلو ګرامه د محلي واښو تخمونه راټول کړي، ۲۵۷ هکتاره ویجاړ شوي ځنګلونه بیارغوي او د ۲۷۵۹۷۰ هکتاره

ځنګلونه او مال څر ځاینه تقویه کړي. د ملخانو د هګیو بستر سروې په ۱۱ ولایتونو کې ترسره شوي چې ۵۱۶۶۳ هکتاره ځمکه تر پوښښ لاندې نیولې او د کرنې او خوراک سازمان سویابین د لوبیا څېړنې او پراختیا پروګرام لپاره په ۱۰ ولایتونو کې فعالیت کوي.

۵۴. د عامې روغتیا وضعیت د جنوری د میاشتې له ۱ څخه تر ۲۶ د اکتوبر پورې د ډیهایډریشن د حاد اوبو اسهال د ۱۵۵۳۸۳ قضیو د راپور ورکولو سره خورا ناوړه دی. برسېره پردې، د ډینګي تبې ۳۲۶۳ قضیې، د شري ۵۱۲۲۹ قضیې ، د ۱۱۴۸ شکمن کریمیا - کانګو هیمرجیک تبه قضیې هم راپور ورکړ شوي دي. د راپور ورکولو په موده کې، د ملاریا ۷۱۷۹۴ تایید شوي قضیې ثبت شوي دي. د جګرې له امله د صدماتو د پیښو شمیر، چې دواړه راجع شوي او درملنه شوي، چې د ۲۰۲۳ کال د جنوري څخه تر سپټمبر پورې د ورته مودې په پرتله، ۱۸ سلنه ډیره شوي، او ۴۱۳۴۵ پیښو ته رسیدلي. یونیسف راپور ورکړی دی چې کابل ۲۴۰۰ روغتیایي مرکزونه د بستر بهر ناروغو ماشومانو ته خدمتونه وړاندې کړي، او له ۳۳۰۰۰۰ څخه زیاتو امیندوارو میرمنو ته د زیږون څخه دمخه د پاملرنې او مراقبت خدمتونه چمتو کوي. د ملګرو ملتونو د نفوس وجهي صندوق له ۲۸۰۰ څخه زیاتو ښځینه خدماتو چمتو کوونکو سره مرسته کړې ترڅو د میندو روغتیا او د جنډر پراساس تاوتریخوالی مخنیوي خدمتونو چمتو کول لا پسې وده ورکړي.

۵۵. د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر د میاشتې له ۱۵ نېټې څخه بیا تر ۲۱ اکتوبر، ۲۰۲۴ کال پورې، له ایران او پاکستان څخه د ۷۵۰۰۰۰ څخه زیاتو افغان راستنیدونکو سره د کډوالو نړیوال سازمان د استوګنې مرکزونو او د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ دفتر د نغدو پیسو د مرستو مرکزونو لخوا بشري مرسته شوې ده. افغانستان ته د کډوالو د راستنېدو لړۍ دوام لري، د ملګرو ملتونو د کډوالو دفتر په ۲۰۲۴ کې د ۵۰۳۳۷ راجستر شویو کډوالو سره چې د ایران او پاکستان له اسلامي جمهوریت څخه بېرته هېواد ته راستانه شوي، مرسته کړې چې په سلو کې ۷۸ یې ښځې او ماشومان دي. د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمشنر دفتر د ټولنې پر بنسټ د ساتنې څارنه، د بې ځایه شویو، راستنیدونکو او کوربه ټولنې غړو سروې د سپتمبر د میاشتې له ۱ څخه بیا تر اکتوبر میاشتې ۱۹ نېټې پورې ترسره شوي، وموندله چې ۴۳ سلنه ځواب ورکوونکې روغتیایي پاملرنې ته لاسرسی نلري او ۵۷ سلنه ټولنیز رواني خدمتونو او ملاتړ ته لاسرسی نلري. ډیری ښځې او نجونې د ځورونې، د اسنادو د نشتوالي او ټولنیز کلتوري خنډونو له امله بازارونو، روغتیایي مرکزونو او د اوبو ځایونو ته د تګ څخه ډډه کوي. یونیسف له پاکستان څخه ۱۹۳،۲۹۳ راستنیدونکو افغانانو ته اوبه، د حفظ الصحې او چاپېریال حفظ الصحې مواد برابر کړی دی.

۵۶. بشردوستانه لاسرسی لاهم ننګونو سره مخ دی، د ۲۰۲۴ کال د جولای څخه تر سپتمبر میاشتې پورې د لاسرسي په اړوند ۴۱۳ پیښې راپور شوي چې د تیرو دریو میاشتو په اوږدو کې د ۳۶۸ پیښو په پرتله ۱۲ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي او د ۲۰۲۳ په ورته موده کې د ۴۱۱ پیښو څخه کوم لوی بدلون ندی راغلی. اصلي خنډونه په بشردوستانه فعالیتونو کې لاسوهنه شامله ده چې د پیښو ۷۸ سلنې جوړوي. په نورو ننګونو کې د خوځښت محدودیتونه (۳۲ پیښې)، د بشردوستانه کارکونکو په وړاندې تاوتریخوالی (۲۹ پیښې) - په ګډون د ۳۸ توقیفونه،

فزيکي چاپيريال (۲۲ پيښې)، د بشري ارتياوو له شتون څخه انکار (۴ پيښې)، روان نظامي عمليات (۲ پيښې) او د په لاس جوړ چاوديدونکو توکو چاودنه (۲ پيښې) ثبت شوي دي. دا پيښې په مختلفو سيمو کې د ۲۱۲ فعاليتونو موقتي تعليق لامل ګرځيدلې، چې د تير راپور ورکولو مودې په پرتله ۸۶ سلنه زياتوالی په ښکاره کوي. پداسې حال کې چې د ۲۰۲۳ کال د ورته مودې په پرتله د جنډر پورې اړوند د لاسرسي پيښو مجموعي شمير ۳۴ سلنه کم شوی دی.

۵۷ . د ماين پاکۍ همکارانو د اګست د مياشتې څخه بيا تر اکتوبر مياشتې پورې ۲۸ کيلومتره مربع ځمکه د چاوديدونکو توکو څخه پاکه کړه، د ښوونځي زده کونکو لپاره چې تعليمي تاسيساتو ته تګ او راتګ کوي خوندي لارې برابرې کړي چې د بې ځايه شويو کورنيو او بيرته راستنيدو د راتګ ته لپاره لاره هواره کړي چې په ورته وخت کې د کرنې فعاليتونو بيا پيلولو او د سړک جوړولو او همدارنګه د استوګنې او څړځايونو د پراختيا لپاره مرسته وکړي. د ملګرو ملتونو په مشرۍ د ماين پاکۍ تخنيکي ځانګې د کيفيت مديريت د ۴۶۰ ساحو څخه ليدنې ترسره کړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د ماين پاکۍ فعاليتونه په ملي او نړيوال معيارونو سره پوره ترسره کيږي. د ماين پاکۍ سکتور غير دولتي موسسو په استازيتوب د اوسنې چارواکو د اندښنو په اړه د دوی سره منځګړيتوب او د ۱۲۰۰۰ ماين پاکولو راپورونه د نړيوال مديريت سيسټم ته پروسس او تصديق کړي دي. د مرکزي بيړني غبرګون وجهي صندوق په فارياب، بغلان او کندز ولايتونو کې د ماين پاکۍ د خدماتو له لارې د ماين پاکۍ فعاليتونه تمويل کړي چې د اکتوبر په مياشت کې پای ته ورسيدل، او د ۲۸ ښوونځيو په شاوخوا کې د چاوديدونکو موادو ککړې سيمې پاکې کړې او د کندز ولايت څلور ولسوالۍ د چاوديدونکو توکو څخه پاک اعلان شوې. د ۴۱۶۰۰۰ څخه زياتو خلکو د ښځو، ماشومانو او معلوليت لرونکو خلکو په ګډون، د چاوديدونکو توکو د ګواښ په اړوند زده کړې ترلاسه کړې. د تمويل ننګونې لاهم په جدې توګه په خپل حال کې پاتې دی، سره له دې چې په ټول هيواد کې د ماين پاکۍ د فعاليت د دوام اړتيا شتون لري، ډيری ملي پلي کوونکي شريکان د عملياتو لپاره د بوديجې د نشتوالي له امله د بنديدو له ګواښ سره مخ دي.

**شپږم: مخدره توکي**

۵۸. د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرم په اړه دفتر د ترياکو د سروې راپور د نومبر د مياشتې په ۶ نېټه خپور شو، چې په ۲۰۲۴ کال کې په افغانستان کې د کوکنارو تر کښت لاندې ساحه ۱۲۸۰۰ هکتاره اټکل شوې، چې د ۲۰۲۳ کال (۱۰۸۰۰ هکتاره) په پرتله ۱۹ سلنه زياتوالی لري، خو په عين وخت کې د ۲۰۲۲ کال په اپريل مياشت کې د اپينو د بنديز د پلي کيدو دمخه دورې په پرتله خورا ټيټ دی، (۲۳۲۰۰۰ هکتاره). پداسې حال کې چې د هېواد سويلي ولايتونه تر ۲۰۲۳ کال پورې د کوکنارو د کښت مرکز وو، خو په ۲۰۲۴ کال کې په شمال ختيځو ولايتونو کې، په تېره بيا په بدخشان ولايت کې د د کوکنارو کښت ۵۹ سلنه ثبت شوې دی. د ترياکو بيه لوړه او باثباته پاتې شوي، چې هر کيلو ګرام ترياک نږدې ۷۰۰ ډالره بيه درلود، د ترياکو د بنديز دمخه قيمتونو څخه نږدې اوه چنده لوړه ده. په هر کيلو ګرام ترياک کې د ۱۱۰ ډالرو لوړوالی بزګران يي د ترياکو کښت د بيا پيلولو لپاره هڅولی دي،

پداسې حال کې چې هغه کروندګر کوم چې د دوامدار بدیل نلري له ډېر خراب مالي او اقتصادي وضعیت سره مخ دي. د مخدره توکو او جرم په وړاندې د ملګرو ملتونو دفتر لخوا راپورونه په افغانستان کې د میتامفیتامین د قاچاق او تولید دوام په ګوته کوي، که څه هم د تولید کچه یې لا هم روښانه نه ده.

۵۹. د اګست د میاشتې له ۱۵ څخه د نومبر د میاشتې تر ۱۵ نېټې پورې، د مخدره توکو او جرم په وړاندې د ملګرو ملتونو دفتر د پرمختیایي بدیل د پروګرام څخه له ۸۶۶ څخه زیات کورنې د سبزیجاتو او غلو دانو د محصولاتو د تولید، د څارویو پالنې او د چرګانو د روزنې او د ښه زراعتي کړنو په اړه د روزنې له امله د سمدستي عاید تولید ملاتړ او د آفتونو د منسجم مدیریت څخه ګټه ترلاسه کړېده. د مخدره توکو او جرم په وړاندې د ملګرو ملتونو دفتر په ۱۳ ولایتونو کې د نشه يي توکو د درملنې له ۱۰ مرکزونو، د اپیایډ اګونیست د درملنې له ۲ مرکزونو(د ړړو کسانو درملنه)، د درملنې ۴ مرکزونو او د حرفوي زده کړو له ۴ مرکزونو سره مرسته کړې، چې د نشه يي توکو د استعمال اخته نارینه او ښځینه او بندیانو په ګډون له ۷۰۰۰ څخه زیات ګټه اخیستونکي ترې برخمن شوي دي.

۶۰. د جولای د میاشتې څخه تر سپتمبر میاشتې پورې، د ملګرو ملتونو پراختیا پروګرام په شپږو والیتونو کې د کوکنارو د بندیز له امله اغیزمنو شویو ۳۸۴۰ کورنیو سره مرسته کړې، د کرنیزو توکو او د ارزښت اضافه کولو وسایلو کڅوړې ویشل، د شنو خونو بیارغونه او د اوبو لګولو کانالونو جوړول پکې شامل دي. د فصل د راټولو څخه وروسته درې مرکزونه فعال شول چې ۲۹۲ بزګران ترې ګټه اخېستی ده.

۶۱. د سپتمبر د میاشتې په ۹ او د نومبر نومبر د میاشتې په ۶، د مخدره توکو سره د مبارزې کاري ډلې، چې د یوناما او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم د فتر لخوا په ګډه مشري کیږي، خپله شپږمه او اوومه غونډه جوړه کړه، چې په کابل کې د غړو هیوادونو او نړیوالو سازمانونو میشت استازو هم پکې ګډون درلودل، او همدارنګه د اوسنې چارواکو د کورنیو چارو وزارت د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې معین حاجي عبدالحق همکار او نور چارواکي هم برخه اخیستې وو. په دې ناستو کې ګډونوالو د نشه يي توکو په وړاندې د افغان ولس د ننګونو د حل لپاره خپلې هڅې وړاندې کړې او د نشه يي توکو د کښت او د نشه يي توکو د تقاضا کمولو لپاره د بدیل معیشت په ګډون، د ملګرو ملتونو پریزنټېشن وړاندی شو او دوی د لا پرمختګ پر لارو چارو خبرې وکړې. د اوسنې چارواکو لخوا د مخدره توکو سره د مبارزې عالي کمیسیون د رامنځته کولو په اړه تازه معلومات وړاندې کړل.

**اووم: د ماموریت ملاتړ**

۶۲. د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر د میاشتې تر ۳۰ پورې، په یوناما کې د ۹،۵ سلنې د منظور شوي بستونو کچه، د نړیوالو کارمندانو لپاره ۱۲ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره ۴ سلنه، د ملي مسلکي افسرانو لپاره ۲۱ سلنه او د ملي کارمندانو لپاره ۱۶ سلنه وه، چې د هغه تایید شوی کچه په ترتیب سره ۹،۵ سلنه، ۱۲ سلنه، ۱۰،۵ سلنه او ۹،۵ سلنه وه. د نارینه په وړاندې د ښځینه کارکوونکو تناسب د نړیوالو کارکوونکو لپاره ۳۴ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره ۴۰ سلنه، د ملي مسلکي افسرانو لپاره ۹ سلنه او د ملي کارمندانو لپاره ۱۰ سلنه وه. د ملګرو ملتونو

د رضاکارانو ملي پروګرام د ځوانو افغان میرمنو لپاره چې غواړي د ملګرو ملتونو په کاري ځواک کې شامل شي یو مهم نل لېکې په ډول پاتې دی.

**اتم: سپارښتنې**

۶۳. ډیری ننګونې، د کمزوری اقتصاد، پراخه بې وزلی، د بشري حقونو او آزادیو سخت محدودیتونه - په ځانګړې توګه د ښځو لپاره - او د اقلیم بدلون اغیزې په ګډون، په افغانستان کې د خلکو ژوند خرابولو ته دوام ورکوي. د هیواد بشري وضعیت خورا خراب دی، په میلیونونو وګړي د ژوند ژغورنې مرستو پورې متکي دي. د تمویل کمښت، د ښځینه مرستندویه کارکونکو محدودیتونه او عملیاتي خنډونه د اړینو خدماتو دوام ګواښوي. د بشرپالنې غبرګون او اساسي بشري اړتیاوو لپاره نړیواله تمویل د غوښتل شوي مقدار څخه خورا ټیټه پاتې ده، کوم چې د زیان منیدونکي خلک - په ځانګړې توګه ښځې، ماشومان، معلولیت لرونکي او زاړه خلک - پرته له جدي ملاتړ څخه د ګواښ سره مخ دی. پداسې حال کې چې د افغانستان په وړاندې ننګونې اوږد مهاله دي، او د تمویل محدودیتونه تر یوې اندازې د نړیوال وضعیت لخوا اغیزمن شوي، د اوسنې چارواکو د محدودیت څخه ډک پالیسي او کړنې د نړیوالې ټولنې ښکیلتیا او تمویل نور محدودولو سره مرسته کړې ده.

۶۴. د امر بلمعروف او نهي عن المنکر قانون معرفي کول د جون له ۳۰ څخه د جولای تر ۲ پورې په دوحه کې د ملګرو ملتونو لخوا رابلل شوي غونډې څخه لږ وروسته، د اوسنې چارواکو او نړیوالې ټولنې ترمنځ د رغنده ښکیلتیا کاری چوکاټ رامنځته لا نور هم ستونزمن کړ. د داسې ښکیلتیا د کاري چوکاټ لومړنی هدف په افغانستان کې د خلکو لخوا د مخ شوي ننګونو اغیزی کمول دي، او په نهایت کې، لکه څنګه چې د امنیت شورا پریکړه لیک 2679 (2023) (S/2023/856، ضمیمه) سره سم په خپلواکه ارزونه کې ویل شوي دي، د افغانستان د یو داسې راتلونک لپاره کار کول دي، چې افغانستان په بشپړ توګه په نړیوال سیستم کې ګډ وي، پرته لدې چې یو بل تاوتریخوالی تجربه کړي او خپل نړیوالو ټول ته درناوی وکړي.ونه ملګري ملتونه ژمن دي چې د ځانګړي استازي د غونډو پایلې او د خپلواکې ارزونې په راپور کې ورکړ شوي سپارښتنې پلې کړي.

۶۵. د امر بلمعروف او نهي عن المنکر د قانون پلي کول په افغانستان کې ښځې او نارینه دواړه اغیزمن کړي دي. شواهد ښيي چې ښځې او نارینه د "اسلامي" ظاهر په اړه د غوښتنو د رعایت کولو له امله له نورو خنډونو سره مخ شوي دي، پداسې حال کې چې د ښځو په وړاندې د محدودیتونو ډیر جدې پلي کول د دوی معیشت او فزیکي او رواني روغتیا او وضعیت نوره هم پیچلې کړې ده. دغه قانون د هغو افغانو ښځو د فعالیتونو د محدودولو له لارې چې د مرستو په برابرولو کې بوخت دي او هغو ښځو او نجونو ته چې مرستې ته اړتیا لري، د مرستې رسولو بهیر هم اغیزمن کړی دی. زه د اوسنې چارواکو څخه په کلکه غوښتنه کوم چې د امر بلمعروف او نهي عن المنکر په قانون کې ټول محدودکونکې احکام لغوه کړي.

۶۶.	زه لدې امله په ژوره توګه اندیښمن یم چې د شپږم ټولګي څخه وروسته د نجونو او ښځو په زده کړې بندیز پر خپل ځای پاتې دی، کوم چې د افغانستان د بشري حقونو مکلفیتونو منلو او د اوسنې چارواکو د ځان بسیاینې له ټاکل شوي هدف سره په ټکر کې دی. ښوونه او روزنه یو بنسټیز حق دی چې نارینه او ښځینه دواړو ته توان ورکوي چې ځواکمن شي او له بې وزلۍ څخه بهر شی، نابرابری کم کړي دوامداره پرمختګ ترویج کړي. زه د اوسنې چارواکو څخه په کلکه غوښتنه کوم چې د نجونو او ښځو په زده کړې ټول محدودیتونه او د ښځو او نجونو په وړاندې ټول توپیرلرونکی محدودیتونه لرې کړي.

۶۷.	د امر بلمعروف او نهي عن المنکر د قانون له مخې د ژوندیو موجوداتو د عکسونو د ښودلو د منع کولو له امله د تلویزیوني سټیشنونو بندول معلوماتو ته د خلکو لاسرسي مخه نیسي او د رسنیو سکتور شتون له ګواښ سره مخامخ کوي. د بیان ازادي د حساب ورکونې او غوره حکومتوالۍ لپاره اړینه ده. د رسنیو د کارکونکو د خپل سرې نیونې او توقیفولو دوام، چې موخه یې د مخالفو غږونو بندول دي، د منلو وړ نه دی. زه پر اوسنې چارواکو باندی غږ کوم چې ټول هغه محدودیتونه لغوه کړي کوم چې د بیان آزادی او معلوماتو ته لاسرسی محدودوي او د رسنیو سکتور خپلواکې زیانمنوي.

۶۸.	د ملکي ژوند او ملکي ځایونو، په ځانګړې توګه د هزاره شیعه ټولنې د خوندیتوب لپاره، باید ډیرې هڅې وشي. د پخوانیو حکومتی چارواکو او د افغانستان د ملی دفاعی او امنیتی ځواکونو د غړو پرله پسې په نښه کول، سربیره پر دې چې اوسنې د اوسنې چارواکو لخوا د دوی عمومی بخښنې ته ژمنتیا په عامه توګه څرګندېږی، د ژورې اندیښنې وړ دي. دا مهمه ده چې د دې اشخاصو ساتنه یقیني شي او کله چې د بخښنې د علان څخه سرغړونه کیږې، بشپړ او ړون څیړنې ترسره شي چې د مرتکبینو لپاره حساب ورکونې ته منجر شي.

۶۹.	د ناچاودو توکو په پایله کې په دوامداره توګه د ماشومانو د ژوند له لاسه ورکول او د ژوند بدلونکي ژوبلې دواړه د منلو وړ او همدارنګه د مخنیوي وړ دي. نړیوالې ټولنې ته بیړنۍ اړتیا ده چې د ماین پاکولو هڅې او د لا زیاتو زیانونو د مخنیوي لپاره د پوهاوي لوړولو لپاره خپل ملاتړ او هڅې زیاتې کړي.

۷۰.	زه پر اوسنې چارواکو باندې غږ کوم چې د فزیکي مجازاتو پلي کول ودروي، کوم چې د نړیوالو قوانینو له مخې د شکنجې یا ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي چلند یا مجازاتو بڼه لري او دوی ته یادونه کوم چې افغانستان د بشري حقونو د ډیری نړیوالو تړونونو غړی دی، کوم چې د شکنجې او بد چلند ټول ډولونه په بشپړ ډول منع کوي.

۷۱.	اوسنې چارواکې او همدارنګه نور فعالین باید د جنایي عدالت سیستم کې سیستماتیک ننګونې هم حل کړي. ننګونې: د بند د مودې څخه وروسته د زیات مودې د ساتلو اصلي لاملونو په نښه کول، په ځانګړې توګه کوچنی جرمونه، لکه کوچني خطاګانې؛ د زیانمنیدونکو وګړو لپاره د وکیلانو او حقوقي مرسته کوونو د کمښت حل کول؛ او همدارنګه د محاکمې څخه مخکې د توقیف اوږدې مودې کمول په ګډون دي. دا دول ستونزې پر توقیف شوي کسان او د هغوی په کورنیو باندې ناوړه اغیزه کوي. د هیواد په کچه ټولو زندانونو ته د ملګرو ملتونو د لاسرسي په برخه کې د اوسنې چارواکو زندانونو د ادارې دفتر دوامداره ژمنې هڅونکې دي. زه پر نړیوالې ټولنې یو ځل

بیا ټینګار کوم چې د بندیانو د اساسي اړتیاوو د پوره کولو لپاره خپل ملاتړ لا زیات کړي. دا ملاتړ باید د توقیف ځایونو لپاره د کافي خوراکي توکو او طبي پاملرنې چمتو کول، حرفوي او تعلیمي زده کړې، په توقیف ځایونو کې د تودوخې نشتوالي لپاره د اړوند وسایلو لپاره اکمالات او په توقیف ځایونو کې د روغتیا او تعلیمي پرسونل ګمارل شامل وي.

۷۲. د بشرپالنې خدمتونو ته لاسرسی د خوځښت د محدودیتونو، د مرستو په فعالیتونو کې د لاسوهنې او د مرستندویه کارکوونکو په وړاندې د تاوتریخوالي له امله د خنډ سره مخ دی. زه د اوسنې چارواکو څخه غوښتنه کوم چې د مرستندویه کارکونکو خوندیتوب ډاډمن کولو لپاره سمدستي اقدام وکړي، د بشرپالنې په عملیاتو کې له مداخلې څخه ډډه وکړي او بیوزلو خلکو ته بې له ځنډه پرته لاسرسی ډاډمن کړي. په افغانستان کې د زیاتو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د ډونرانو د مرستو زیاتوالي ته بیړنۍ اړتیا ده. زه له نړیوالې ټولنې څخه غواړم چې د بشردوستانه هڅو تمویل ته ژمن پاتې شي، پداسې حال کې چې ټینګار کوم چې اوسنې چارواکې باید د دوې تعامل د فعالولو لپاره همکاري وکړي. له همغږې هڅو پرته په میلیونونو افغانان – په ځانګړې توګه ښځې او ماشومان – له سختو ستونزو سره به مخ شي.

۷۳. د ایران او پاکستان د اسلامي جمهوریتونو څخه د راستنیدونکو مخ په زیاتیدونکې شمیر د هغوی د جذبولو لپاره د افغانستان د مخکینۍ پراخیدونکي ظرفیت په اړه نور فشارونه هم زیاتوي. راستنیدونکي د بیا یوځای کیدو په برخه کې له ډیرو ننګونو سره مخ دي، په ځانګړې توګه د کور، کارموندنې او اساسي خدمتونو ته د لاسرسي په برخه کې. د افغانستان د جذب د ظرفیت پیاوړی کول د لا بې ثباتۍ د ګواښونو د کمولو لپاره خورا مهم دی.

۷۴. ملګري ملتونه او د هغه همکاران، د هیواد د پیچلي عملیاتي چاپیریال په پام کې نیولو سره، د افغانانو د اساسي بشري اړتیاوو د رسولو لپاره ژمن دي. د تمرکز په مهمو برخو کې د ګواښ مدیریت ستراتیژیو ته وده ورکول، د بدیل معیشت ملاتړ، د اقلیم انعطاف لوړول او د ناوړه چلند او ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي لپاره د میکانیزمونو پیاوړتیا شامل دي. زه پر نړیوالې ټولنې غږ کوم چې د حیاتي خدمتونو د وړاندې کولو د یقیني کولو پخاطر خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

۷۵. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو شتون د نړیوالې پاملرنې او ښکیلتیا ساتلو او همدارنګه د بشردوستانه او لومړنیو بشري اړتیاوو د رسولو لپاره خورا مهم دی ځکه چې د افغانستان خلک لاهم ډیر کړاوونه تجربه کوي. زه د خپلې ځانګړې استازې روزا اوتونبایوا په مشرۍ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ټولو کارکوونکو او د نا دولتي مؤسسو همکارانو ته چې په خورا ننګونکي چاپیریال کې د افغانستان خلکو ته د دوی د دوامدارې وقف او خدمت له امله خپله ژوره مننه څرګندوم.